مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فضل الله غبنتلی
۲۰۱۸/۰۹/۳۰

# معاشونه ولې ځنډېدلي؟

تراوسه په دې اړه کومې رسمي مرجعې څه نه دي ویلي، خو د سرچوک په آوازو کې يې خبرې څه نورې نورې دي. یوه اوازه دا ده چې د بیومتریک لپاره ځنډېدلي، په ځینو ولایتونو کې د پولیسو له لیکو د خیالي پولیسو د لرې کولو لپاره د لتفا سیستم ترلی پاتي شوی دی.

د پولیسو معاشونه د دغه سیستم له لارې د مالیې وزارت له خوا چک او حواله کېږي. دغه سیستم د بهرنیو ډونرانو(ناټو) پرمټ تمویلېږي.

د دغو معاشونو په اړه بله اوازه دا ده چې ناټو پر دغه سیستم خپلې پیسې وروسته له هغې ودرولې چې په ملي شورا کې یوشمېر وکیلانو وویل چې له امریکا سره پر امنیتي هوکړه دې له سره کتنه وشي او دغه هوکړه يې وننګوله.

ډېرې خلکو به د ډوکسیکل او پاراډوکسیکل میتودونو په اړه اورېدلي وي، د پاراډوکسیکلو میتودونو له لارې معمولاً مسایل سرچپه قلمداد کېږي خو نتیجې يې راسته وي. یعني په پاراډوکسیکل سیاستونو کې څرګندونې یو ډول خو اصلي خبرې نورې وي. ډېرې خلک په دې اند دي چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د امریکې او ناټو سیاستونو مخه پاراډوکسیکلو سیاستونو ته اوښتي ده او په افغانستان کې د شوروي پوځیانو او چارواکو د وروستیو ورځو پېښې کوي.

له افغانستانه د شورویانو د وتلو پرمهال د پوهنتون محصل وم، د جنیوا هوکړه وشوه او د هغې له مخې باید شوروي پوځونه له افغانستانه وتلي وای. رنګارنګ خبرې او تبلیغات به کېدل، چا به ویل چې شورویان وځي، خو بل به ویل چې والله که به يې وباسي، هغوی دلته دومره ډېرې پیسې لګولي لکه د سر وبښتان، ایا دغه پیسې په سیند لاهو کولای شي. په دا منځ کې د وطن ګوند ځینو لوړپوړو غړو بیا دا ډول خبرې کولې چې شورویان يې له افغانستانه په غیرمسوولانه وتلو ملامتول. له دې نهیلی يې بیا داسې معلومېدل چې ګوندې شورویان دې ووځي.

د وطن د ګوند ډېرې غړي د شورویانو په وتلو خفه وو، خو عام خلکو بیا ری نه واهه، ویل به يې چې نه يې پر چا کار لرلی او که رژیم بدلېږي; نو څوک به پرې کار ونه لري.

په دې وخت کې د دولت د مامورینو معاشونه د ۱۵ ورځو لپاره وځنډېدل، چارواکو يې سبب دا وایه چې د پیسو د حوالې چک په ترېروتنه ختیځ المان ته تللی.

هغه مهال لکه د مسکو بانک له خوا د ازبکستان په کوم بانک باندې چک ورکول کېده او پیسې له هغه ځایه بیا کابل ته راتلې. هغه وخت دغه خبره ماته ډېره ګرانه تمامه شوه چې موږ ولې خپلې پیسې نه لرو او ان زموږ د مامورینو معاشونه له شوروي راځي، په داسې حال کې چې د حکومت مشرانو به خلکو ته د کور کالي ډوډۍ او هېواد ته د پراختیا ورکولو شعارونه ورکول، خو د پرمختګ څرک نه و او هېواد په بشپړه توګه د شورروي له مرستو سره ترل شوی و. دغه حالت د خلکو تر منځ دوه ډوله وېره رامنځته کړې وه، یوه له شوروي سره د ترلتیا او خپلواکۍ د سلبېدو او بله د حکومت د پرځېدو وېره وه.

۱۳۶۷ کال راورسېده په داسې حال کې چې ډېرو کمو خلکو فکر کاوه چې د شوروي پوځونه به ووځي، د دلوې په اوه ویشتمه یو لړ مراسم په کابل کې جوړ شول، ځینو ځوانانو او د حکومت چارواکو شوروي پوځیانو ته د ګلونو ګېډۍ په لاس کې ورکړې او په دې توګه په ډېر آسانه د شوروي پوځونو له افغانستانه وتل پیل کړل، خو بیا خلکو دغه وتل نمایشي ګڼل او فکر يې کاوه چې له کوم ګوټ څخه به بېرته دوره وکړي او بېرته به افغانستان ته راستانه شي. خو یوازې ډاکتر نجیب الله و چې په دې هکله تر بل هر چا ډېر پوهېده او خبر و، ځکه د شوروي پوځیانو د وتلو په لار کې لومړنی تعویض و چې شورویانو د کابل په اداره کې دوه کاله مخکې رامنځته کړی و او د دولت له مخالفانو سره يې د جوړجاړي دستور ورکړی و او دغه بهیر يې د ملي مصالحې په نوم په لاره اچولی و.

شورویانو په څه کم دوو کلونو کې له افغانستانه خپل وتل بشپړ کړل، جهادي تنظیمونو هم خپل کفایت ونه ښودلای شو او له حکومت سره يې د سولې پر ځای نور هم جګړې ته زور ورکړ او د ټوپک له لارې يې د حکومت پرځېدو ته ملاوې وترلې. پر کابل او نورو لویو ښارونو يې لارې وترلې او حکومت يې په محاصره کې راوست. له دې کار سره په لویو ښارونو او ټول هېواد کې د اجناسو نرخونه څو برابره لوړ شول او د بهرنیو اسعار نرخ هم ورسره څو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

برابره شو. ډالر لومړی له ۴۰- ۵۰ ته او بیا د څو میاشتو په لړ کې له ۵۰- ۷۰ او بیا د څو ورځو په لړ کې ۸۰ او بیا ۱۰۰ ته لوړ شو، چې ورسره یو ځای حکومت هم وپرځېده.
تېرو تجربو ته په کتو له دوو کلونو او په تېره له یوه کال راهیسې د افغانستان په اړه د امریکایي چارواکو له حرکاتو او سکناتو داسې ښکاري، چې دوی هم لکه په افغانستان کې د شوروي‌یانو سناریو تکرار کړي او پرته له دې چې په افغانستان کې ښه تر شا د سولې او ثبات په اړه کوم نړیوال تضمین او هوکړه پرېږدي، له افغانستانه پښې سپکې کړي؛ ځکه له کله چې ډونالډ ټرمپ واک ته راغلی له افغانستان سره یې د شوروي د هغه وخت د مشر ګرباچف په څېر بې تفاوته چلند غوره کړی دی.
ښکاري چې ټرمپ د افغانستان په اړه ځانګړې علاقه او لېوالتیا له لاسه ورکړې، پخپلو ویناوو کې د افغانستان نوم نه اخلي او ان تر دې چې د نړیوالې ټولنې په عمومي غونډه کې یې هم له افغانستانه یادونه ونه کړه.
ټرمپ لا د خپل کمپاین پرمهال ښکاره کړې وه او ویلي یې وو، امریکا د دې پرځای چې د خپل امنیت لپاره پیسې په یو بهرني ملک کې مصرف کړي بهتره دا ده هغه د هېواد په دننه کې د خپل دفاعي سیستم پر ټینګښت ولګوي.
دا ښکاري ده چې امریکایي ځواکونه به بالاخره یوه ورځ له افغانستانه وځي او د تل لپاره به د پیسو دا سپین چکونه زموږ لپاره نه لېږي، دا پر موږ ده چې مسوولانه چلند وکړو او د خپل هېواد چارو سمبالښت ته پخپله ملاوې وتړو او خپلو ستونزو ته ورسېږو، داسې نه شي چې خدای مکړه یو ځل بیا پر کابل د مجاهدینو د انډوخر غونډې بل انډوخر راجوړ شي، د لوړې او چور لښکرې پر ښارونو ورسمې شي او کوم ناځیز څه مو چې تراوسه د نړیوالو په مرسته ترلاسه کړي، هغه هم له لاسه ور کړو او یو ځل بیا کابل د خوارجو او نادانو جنګیالیو د جګړې، چور او چپاول په ډګر واوړي.
د نړیوالې ټولنې او امریکې له وروستیو مظاهرو لکه په افغانستان کې د معاشونو ځنډېدل، د پولې او امنیتي بحران او نورو مسایلو په اړه د بې تفاوتۍ زیاتېدل او له نورو داسې مظاهرو او سکناتو ښکاري چې امریکا لکه د عراق او سوریې غونډې افغانستان ته هم په نږدې راتلونکې کې شا کړي او دغه هېواد په ډاګ پرېږدي.
د هغه هېوادونو چارواکي خو وخت شناسه او ځیرکه وو د امریکې د لورې په بدلېدلو سره یې روسیې، چین او نورو سیمه ییزو ابرقدرتونو ته مخه کړه او د امنیت او نورو چارو په سمبالښت کې یې له هغوی مرسته وغوښته.
افغان چارواکو ته هم اړینه ده، څومره چې ژر شوني وي خپلې اړیکې له روسیې، چین، ترکیې او نورو سیمه ییزو هېوادونو سره د عادي ډیپلوماسۍ له کچې د ژورې همکارۍ کچې ته راولي زه فکر کوم چې دې تشې ته یوازې محمد حنیف اتمر د امنیت شورای پخوانی سلاکار متوجه او په دې هکله یې مندې ترړې هم کړي دي؛ خو په خواشینې سره چې هغه له خپلې دندې ګوښه او یا هم مستعفي شو که نه نو د هغه په شتون کې د داسې تشویشونه د امکان تر حده حلېدونکي و او بل خبره د نومړي له ګوښه کېدو ډېر افغانان ډېر خواشني شول او د نومړي په هکله تر اوسه پورې خلک مثبتې لیکنې او یادونې کوي؛ نو که افغان حکومت د خپلو مامورینو معاشونه نه شي تادیه کولی باید په زغرده یې له دوی غوښتنه وکړي او دوی ته ووایي چې د یو باامنه او سوکاله افغانستان شتوالی د دوی اړتیا ده او دوی نه شي کولای د یوه کمزوري او ناامنه افغانستان په ګاونډ کې ارامه او باثباته پاتې شي.
همدا رنګه افغان دولت باید امریکې او اروپا ټولنې ته هم قناعت ورکړي چې افغانستان په خالي میدان پرې نږدي او مخکې له دې چې له دغه هېواده خپلې پښې سپکې کړي لکه د عراق او سوریې په څېر د افغانستان ستونزه له سیمه ییزو هېوادونو سره په تفاهم کې هواره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ